FRONTEX
EUROPEAN BORDER AND COAST GUARD AGENCY

# د شکایت فورمه

# د بنسټیز حقونو څخه احتمالي سرغړونې لپاره

## **عمومي لارښود**

### **څوک کولی شي شکایت وسپاري؟**

1. تاسي، یا کوم شخص یا ډله ستاسي په استازیتوب کولی شي Frontex ته شکایت وسپاري، که تاسي باور ولرئ چې تاسي په مستقیم ډول د Frontex فعالیت[1] کې دخیل کارمندانو د اعمالو په واسطه اغیزمن شوي یاست، او تاسي فکر وکړئ چې د دغه اعمالو له امله ستاسي یو یا څو بنسټیز حقونو څخه سرغړونه شوې ده. د *EU چارټر له مخې د بنسټیز حقونو لیست لپاره ضمیمه I وګورئ.*
2. ستاسي استازیتوب د هرې ډلې (لکه کوم بل شخص، وکیل، سازمانونه، د کورنی غړی، قانوني سرپرست وغیره) لخوا شونی دی. لدې ډلو څخه هریو کولی شي ستاسي په استازیتوب شکایت وکړي.
3. هغه قضیې چې ډیری شکایات پکې دخیل وي هم سپارل کیږي.

### **زه څنګه کولی شم شکایت وسپارم؟**

4. ستاسي شکایت باید **په لیکلې بڼه** وسپارل شي. ستاسي شکایت به د Frontex د بنسټیز حقونو افسر (FRO) لخوا اداره کیږي، دا یو خپلواک ماهر وي څوک چې په Frontex کې بنسټیز حقونه نظارت کوي او څخوي. د شکایت دې فارم کارول د FRO سره مرسته کوي چې ستاسي شکایت په خورا مؤثر ډول پروسس کړي، مګر تاسي کولی شئ په نورو لیکلي بڼو هم خپل شکایت وسپارئ. د پروسې په هره مرحله کې، FRO ممکن تاسي څخه وغواړي چې نور معلومات، اسناد یا ستاسي شکایت ته وضاحت ورته وسپارئ. د دې لپاره، مهم دي چې تاسي خپل د اړیکې توضیحات دې کې اضافه کړئ.
5. تاسي کولی شئ شکایت د EU هره ژبه کې، او په ورته وخت کې په عربي، پښتو، اردو او تیګرینیا ژبو کې وسپارئ. د شکایت فارمونه پدې ژبو کې موجود دي.
6. ستاسي د شکایت لپاره هیڅ اعظمي طول یا حد شتون نلري، مګر ترجیح ورکول کیږي چې ټول معلومات **په 15 پاڼو کې** ځای په ځای کړئ.
7. تاسي باید خپل شکایت د بنسټیز حقونو څخه د سرغړونې یا تیري د پیښې نیټې څخه نیولې تر یوکال موده پورې خپل شکایت وسپارئ یا پدې توګه چې خبر کړل شوي و یا مو پوهه ترلاسه کړئ وه یا په بله وینا د شکایت د سپارلو وړ وی.
8. ستاسي شکایت یوازې هغه حقایقو ته راجع کیدی شي چې پیښ شوي یا اغیزې یې د اکتوبر 6، 2016[2] څخه وروسته دوام درلود، غیرلدې به د منلو وړ نه وي.
9. تاسي اړنه یاست چې د خپل شکایت سپارلو لپاره د ملي پروسو څخه تیرشئ.

---

[1] د Frontex فعالیت پدې معني دی: (i) ګډ عملیات؛ (ii) پیلوټ پروژې؛ (iii) د پولې ګړندی مداخلت؛ (iv) د کډوالی مدیریت د ملاتړ ټیم ګومارل؛ (v) د راستنیدو عملیات یا د راستنیدو مداخلت. د دې فعالیتونو د تعریف لپاره مهرباني وکړئ د سپټمبر 14، 2016 د 2016/1624 (EU) مقررات، د اروپا او ساحلي ګارد اداره کې وګورئ.

[2] د اروپا د پولې او ساحلي ګارد د 2016/1624 (EU) مقرراتو ته د ځواک داخلیدو نیټه.

FRONTEX
EUROPEAN BORDER AND COAST GUARD AGENCY

10. که تاسي Frontex ته شکایت وسپارئ، نو دا د کوم بل ډول شکایت ته لاسرسي لپاره ستاسي مخه نه نیسي، لکه ملي یا اروپایی محکمې.
11. تاسي باید د خپل شکایت **توضیحي حقایق** تشریح کړئ، او د امکان تر حد پورې ستاسي بنسټیز حقونو باندې (ضمیمه I وګورئ) د دغه اعمالو **اغیزه په ګوته کړئ**.
12. د شکایت سپارل **وړیا** دي.

**وروسته لدې چې ما خپل شکایت وسپاره نو څه پیښیږي؟**

13. Frontex او FRO به ټول شکایات په **محرمانه** توګه پروسس کړي غیرلدې که تاسي په واضح توګه پدې فارم کې خپل محرمیت ساتلو حق څخه تیر شئ او یا هم په کوم بل لیکلي ډول.
14. که ستاسي شکایت د هغه اعمالو په اړه وي چې د Frontex فعالیت کې برخه اخیستونکي یا ګومارل شوي د پولي ګارد لخوا ترسره شوی وي، نو ستاسي شکایت به د FRO په واسطه ملي ادارو ته راجع شي چې انفرادي شکایاتو ته رسیدګي کوي او د بنسټیز حقونو ملي نهادونو ته. FRO به تاسي پدې اړه خبر کړي چې ستاسي شکایت کومې اداري یا ادارو ترلاسه کړی دی او تاسي ته به د هغوی د اړیکي توضیحات درکړي. تاسي اړیاست په ځانګړي توګه دې سره رضایت وښایاست چې FRO ستاسي شخصي ډیټا اړوند ادارو ته ولیږي (د شکایت فارم کې برخه 5 وګورئ).
15. که ستاسي شکایت نه منلو وړ اعلام شي، نو FRO به تاسي په لیکلي توګه د شکایت د منل کیدو دلیل په اړه خبر کړي، او که ممکن وي نو ستاسي د اندیښني لیرې کیدو لپاره به درته نور اختیارونه وړاندې کړي.
16. د شکایت کونکي د آدرس، بریښنالیک یا د اړیکي توضیحاتو کې هرډول بدلون څخه باید هرڅومره ژر چې ممکن وي FRO خبر کړل شي.

د Frontex د شکایت میکانیزم مقرراتو په اړه نور معلومات د اداري ویب پاڼه کې موندلی شئ:
www.frontex.europa.eu/complaints

| **1. د شکایت (شکایتونو) په اړه معلومات** |
|---|

*تاسي شکایت د لاندې فرد په توګه سپارئ:*
*(مهرباني وکړئ مناسب انتخاب وکړئ)*

مستقیم اغیزمن شوی فرد (افراد) ☐

د اغیزمن شوي فرد (افرادو) په استازیتوب دله ☐

**مستقیم اغیزمن شوی فرد (افراد):**

تخلص (تخصلونه) : ......................................................................................................
نوم (نومونه): ..............................................................................................................
عمر یي تر 18 کلن دی: هو ☐ نه ☐
تابعیت (که معلوم وي): ..................................................................................................
که نامعلوم وي، مهرباني وکړئ د اوسیدو اخري ځای یي مشخص کړئ : ......................................
د مراسلي آدرس : ..........................................................................................................

پوستي کوډ : .......................................................................................................................
ښار : ................................................................................................................................
هیواد : ..............................................................................................................................
بریښنالیک : ......................................................................................................................
تلیفون (مهرباني وکړئ د هیواد او ساحي کوډ مشخص کړئ) : ....................................................................
فکس: ..................................................................................................................................
نور اړوند معلومات : ............................................................................................................

**یادداشت: تاسي باید د شکایت فارم پای کي لاسلیک وکړئ.**

*د هغه قضیو لپاره چي له یو څخه ډیر شکایت کونکي پکي دخیل وي، مهرباني وکړئ د هر فرد لپاره شخصي معلومات اضافه کړئ.*

**د ډلي کوم استازی:**

تخلص (تخلصونه) : ...............................................................................................................
نوم (نومونه) : .....................................................................................................................
شکایت کونکي سره اړیکه:.......................................................................................................
که د ډلي کیدو وړ وي، د سازمان نوم : ..........................................................................................
د مراسلي لپاره آدرس : ...........................................................................................................
پوستي کوډ : .......................................................................................................................
ښار : ................................................................................................................................
هیواد : ..............................................................................................................................
بریښنالیک : ......................................................................................................................
تلیفون (مهرباني وکړئ د هیواد او ساحي کوډ مشخص کړئ) : ....................................................................
فکس: ..................................................................................................................................
نور اړوند معلومات : ............................................................................................................

**یادداشت: اغیزمن شوی فرد باید د شکایت فارم پای کي لاسلیک وکړي ترڅو د هغه د استازیتوب څخه رضایت وړاندي کړي.**

**که چیرې شکایت کونکی د تایید شوي دلایلو له امله د شکایت فارم لاسلیک کولو وړتیا ونلري** (لکه مړ شوی وي، ورک وي، په حبس کي او ارتباط ورسره شونی نه وي، د روغتیا دلایل، بې سوادي، وغیره) یا د شکایت کونکي لپاره کوم نور قانع کونکي دلایل شتون ولري چي ستاسي د استازیتوب لپاره لیکلی اجازه نه ورکوي، مهرباني وکړئ دلایل یې تشریح کړئ:

........................................................................................................................................
........................................................................................................................................

FRONTEX
EUROPEAN BORDER AND COAST GUARD AGENCY

## 2. د بنسټیز حقونو څخه احتمالي سرغړونې په اړه معلومات

مهرباني وکړئ د بنسټیز حقونو څخه سرغړونې په اړه معلومات وړاندې کړئ پشمول د نېټو، ځایونو، د عمل (اعمالو) یوه شرح یا د عمل کولو ناکامي او دخیل کارمندان. مهرباني وکړئ تشریح کړئ چې تاسې څنګه باور لرئ دغه اعمالو ستاسې بنسټیز حقونو باندې اغیزه کړې یا د هغه شخص حقونو باندې چې تاسې یې استازیتوب کوئ:

**a)** د پېښې (پېښو) تقریبي نیټه: ....................................................................................

**b)** موقعیت/هیواد: ....................................................................................

که چیرې دقیق موقعیت معلوم نه وي، نو مهرباني وکړئ د هغه موقعیت توضیحي شرح وړاندې کړئ چیرې چې پېښه شوې ده:

....................................................................................................

....................................................................................................

**c)** د هغه فرد (افرادو) توضیحي شرح چې تاسې پرې وړاندې شکایت کوئ. د خپلې پوهې سره سم یې شرح کړئ چې آیا شکایت هغه اعمالو ته راجع کیږي چې ترسره شوې لخوا د (ټول هغه چې د اجرا وړ وي په نښه کړئ):

a. د Frontex د ضعیف نیلي رنګ بازوبند لرونکی فرد (افراد) ☐
b. د Frontex د شناخت کارت لرونکی فرد (افراد) ☐
c. د هغه ځای ملي یونیفارم لرونکی فرد (افراد) چیرې چې پېښه شوې ☐
d. نور اشخاص لکه ژباړونکي، ډرایوران وغیره ☐

مهرباني وکړئ د دخیل فرد (افرادو) په اړه معلومات وړاندې کړئ (لکه نوم، د کالو یا پوښاک شرح، د خبرې کولو ژبه، فزیکي څیره، هغه/هغې کومه دنده یا فعالیتونه ترسره کول، وغیره):

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

**d)** د پېښې توضیحي شرح، په ترتیب سره که ممکن وي (که لازمي وي نورې اضافي پاڼې یا ورقې ضمیمه کړئ). که دغه سرغړونه یا تیرې لاهم جریان لري، نو مهرباني وکړئ مشخص یې کړئ:

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

....................................................................................................

.......................................................................................................................
.......................................................................................................................
.......................................................................................................................

**e)** د هغه څه توضیحي شرح چې پورته ذکر شوې پېښې تاسې باندې څنګه اغېزه کړې او تاسې یې څنګه ملاحظه کوئ چې ادا ستاسې د بنسټيز حقونو څخه سرغړونه ده (*د بنسټيز حقونو لیست لپاره ضمیمه I وګورئ*):

.......................................................................................................................
.......................................................................................................................
.......................................................................................................................
.......................................................................................................................
.......................................................................................................................
.......................................................................................................................
.......................................................................................................................

## 3. نورو ادارو ته ستاسې د شکایت سپارل

**یادداشت: تاسې اړتیا نلرئ Frontex ته د خپل شکایت سپارلو لپاره کوم دول ملي پروسې بشپړې کړئ.**

1) آیا تاسې مخکې خپل شکایت کومې محکمې ته سپارلی دی (لکه ملي، اروپایی، وغیره)؟ مهرباني وکړئ مشخص یې کړئ کومه محکمه، د پروسې اوسنی وضعیت او پایله مشخص کړئ، که معلومه وي:

.......................................................................................................................
.......................................................................................................................
.......................................................................................................................

2) آیا تاسې خپل شکایت کوم بل نهاد ته سپارلی دی (لکه یو ملي خیره تولنه، د بشري حقونو ملي نهاد، وغیره)؟ مهرباني وکړئ مشخص یې کړئ کوم نهاد، د پروسې اوسنی وضعیت او پایله مشخص کړئ، که معلومه وي:

.......................................................................................................................
.......................................................................................................................
.......................................................................................................................

## 4. د ملاتړي اسنادو کاپي

1) مهرباني وکړئ ستاسې شکایت پورې تړلي هرډول موجود ملاتړي اسنادو **کاپیاني** وړاندې کړئ. د دې اسنادو **مثالونه** ادا دي:

- ستاسې د تزکرې، پاسپورټ یا کوم بل ډول شناخت کاپي؛
- د مستنداتو، عکسونو، ویډیو، راپورونو، تصدیق پاڼو، د ګواهانو شاهدي یا ستاسې شکایت پورې اړوند نورو ملاتړي اسنادو کاپیاني؛

- که تاسي خپل شکايت نورو محکمو يا نهادونو ته سپارلی وي (برخه 3 وګورئ)، د شکايت فارمونو، د طرفين اظهارات، يا دې پروسو پورې تړلي پرېکړو کاپياني.

2) که تاسي ملاتړي اسناد نښئ وړاندې کولی، مهرباني وکړئ تشريح يې کړئ:

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

**مهرباني وکړئ د اسنادو اصل مه سپارئ ځکه چې بېرته تاسي ته نه درکول کيږي**

## 5. محرميت او شخصي ډيټا

د دې شکايت په سپارلو سره تاسي د Frontex او FRO[3] ستاسي د شخصي ډيټا يا معلوماتو پروسس کيدو سره رضايت لرئ. د شخصي ډيټا پروسس کولو په اړه نور معلومات د محرميت اړوند اظهارنامه کې مشخص شوي دي.

شکايات د Frontex او FRO لخوا د محرميت په پام کې نيولو سره پروسس کيږي. که ستاسي شکايت د منلو وړ اعلام شي، نو دا به د تعقيب لپاره ملي ادارو ته راجع شي، پشمول د هغه ادارو چې د بنسټيز حقونو څخه سرغړونې يا نيرې په برخه کې کار کوي. **<u>مهرباني وکړئ تاييد کړئ چې تاسي په واضح توګه FRO ته اجازه ورکوئ چې ستاسي شناخت او شخصي ډيټا په برخه 1 کې شامل د اړوند ملي ادارو او د بنسټيز بشري حقونو نهادونو سره شريک کړي.</u>** که تاسي پرېکړه وکړئ چې خپل شخصي ډيټا شريک نه کړئ، نو شايد شکايت مو د اړوند ملي ادارو او د بشري حقونو نهادونو لخوا رد شي.

*زه پدې توګه رضايت وړاندې کووم چې زما شخصي ډيټا ملي ادارو ته وليږل شي، پشمول د هغه ادارو چې د دولت اړوند ادارو کې د بنسټيز حقونو لپاره کار کوي (مهرباني وکړئ په نښه يې کړئ):*

هو ☐ نه ☐

---

[3] د *(EC)* مقرره لمبر *45/2001* د ماده *5* ټکي *d* په مفهوم کې

## 6. تصحیح یا جبران

که ستاسي شکایت اثبات شي، نو ستاسي په نظر د رسیدلي زیان لیرې کولو لپاره Frontex یا نور کوم نهادونه څه کولی شي؟

..........................................................................................................................
..........................................................................................................................
..........................................................................................................................

## 7. ستاسي د شکایت سپارل

تاسي کولی شئ خپل شکایت او لازمي ضمایم د بریښنالیک له لارې (complaints@frontex.europa.eu)؛ د Frontex ویب پاڼې؛ د Frontex کارمندانو ته مستقیم چیرې چې فعالیت ترسره کیږي؛ یا د پوست له لارې وسپارئ:

د Frontex د بنسټیز حقونو افسر، شکایات
Frontex
Plac Europejski 6
00-844 Warsaw
Poland

نیټه : ..........................                                        د شکایت کونکي لاسلیک

نیټه : ..........................                                        چیرې چې د اجرا وړ وي، د استازیتوب کونکي دلي لاسلیک

FRONTEX
EUROPEAN BORDER AND COAST GUARD AGENCY

# د Frontex د شکایتونو میکانیزم
# د خصوصي حریم ساتنې اعلامیه

ستاسو شکایت نامه شخصي معلوماتو لکه ستاسو نوم او د اړیکي نیولو معلومات لري او ښایي ستاسو د شکایت په اړه د ملاتړ اسناد ولري (د مثال په توګه، د فزیکي ټپونو د سند په توګه انځورونه، د پولیسو راپورونه، او داسې نور). د Frontex د اساسي حقوقو افسر د Frontex د شکایتونو میکانیزم لپاره د معلوماتو کنټرولرونکی دی.

ستاسو د شکایت پر مخ بیولو کې ستاسو معلومات پروسس کیږي. د معلوماتو په پروسس کې د Frontex د اساسي حقوقو افسر د معلومات د ثبت او تنظیم کارونه کوي او د هغه/هغې کارکوونکي خاص د شکایتونو دنده ترسره کوي. چیرته چې د تطبیق وړ وي، د معلوماتو په پروسس کې ښایي د Frontex اجرایوي رییس، د Frontex د معلوماتو د ساتنې افسر، د اړوندو غړو آیالتونو د ملي اساسي حقوقو ادارو او د غړو آیالتونو چاراواکو سره چې ددغه ډول شکایتونو مسؤلیت ورپه غاړه وي د معلوماتو شریکول هم شامل وي. ستاسو د معلوماتو ترلاسه کولو بنه به توپیر سره ولري او په هغو اشخاصو پورې به اړه لري چې ستاسو په اند ستاسو له اساسي حقوقو څخه بې سرغړونه کړې او په هغو حقوقو پورې به اړه ولري چې تر پښو لاندې شوي دي.

ددې لپاره چې د اساسي حقونو افسر او د هغه/هغې کارکوونکي وکولای شي تر څو د ملي اساسي حقوقو ادارو او له اړوندو ملي ادارو سره چې ددغه ډول شکایتونو مسؤلیت په غاړه لري ستاسي شخصي معلومات شریک کړي، تاسو باید په څرګنده د شکایت په فورمه کې یا په کومه بله لیکلی بڼه د محرمیت له خپل حق څخه تېر شی. که چیرې تاسو د محرمیت له خپل حق څخه نه تیریږی، د اساسي حقونو افسر به د اساسي حقونو د ملي ادارو له اړوندو ملي چاراواکو سره یوازې حقایق شریکوي، نه ستاسو شخصي معلومات. دا مهمه ده چې تاسو ته معلومه وي چې که چیرې تاسو د محرمیت له خپل حق څخه تیر نه شی، ښایي ستاسو شکایت د اساسي حقوقو ملي ادارو او د ملي چاراواکو لخوا چې د شکایتونو مسؤلیت په غاړه لري رد شي، که چیرې دوی بې نومه شکایتونه ونه مني.

ستاسي د شخصي معلوماتو د پروسس کولو موخه دا ده چې ټول اړوند چاراواکو وکولای شي ستاسو د شکایت ارزونه، سمبالونه او تحقیق په اغیزمنه توګه ترسره کړي، چې لدې لارې دوی کولای شي حقایق معلوم کړي او د اړتیا په صورت کې اړیکه ونیسي. تاسو کولی شئ چې د شکایتونو د میکانیزم مختلفو پړاونه د اروپایي سرحدونو او ساحل ساتونکو د 1624/2016 مقررې په 72 مادې کې لوستلی شی او همدارنګه د اداري د شکایتونو د میکانیزم په اصولو کې چې د شکایتونو د میکانیزم د 6 اکتوبر 2016 د اجرائیه رئیس R-ED-2016-106 شمیره پریکړې له خوا تصویب شوی وي او د Frontex ویب پاڼه کې خپور دی.

ستاسو معلومات به د اساسي حقوقو د افسر لخوا ستاسو د شکایت رسید له اعتراف څخه وروسته له دریو (3) کلونو څخه زیات نه ساتل کیږي. پدې وخت کې به تاسو ته د معلوماتو د ساتلو مودې په اړه خبر درکړل شي. له دریو (3) کاله وروسته به ستاسو معلومات رنګ شي. د معلوماتو د ساتلو موده کیدای شي یوازې په توجیه مواردو کې د شپږو (6) میاشتو لپاره وغځول شي. په دې صورت کې به د اساسي حقونو افسر له تاسو سره اړیکه ونیسي تر څو له تاسو څخه د شپږو (6) میاشتو لپاره د معلوماتو د ساتنې د مودې د غځولو اجازې واخلي.

د اروپایي ټولنې د اساسي حقوقو منشور، 2001/45 مقررې او EC/46/95 لارښود له مخې، تاسو حق لرئ چې خپلو معلوماتو ته لاسرسی ولرئ، حق لرئ چې خپل معلومات اصلاح کړئ، او حق لرئ چې د خپلو معلومات له پروسس سره رضایت ونه ښیئ، حق لرئ چې د خپلو معلوماتو د پروسس کولو مخه ونیسئ، د سانسور حق لرئ، او همدارنګه حق لرئ چې د اروپا د معلوماتو د خوندیتوب سرپرست ([www.edps.europa.eu](http://www.edps.europa.eu)) ته مراجعه وکړئ.

د شکایت د سمبالولو پر مهال، د اساسي حقونو افسر یا د هغه/هغې کارکوونکي به هم د شاهدانو، د نورنو اشخاصو، او د بل دریم ګړي شخصي معلومات پروسس کوي چې په شکایت کې شامل دي. چیرته چې اړوندو او په ځای او ممکن وي، هغوی ته به د خپلو شخصي معلوماتو د پروسس کولو په اړوندو خبر ورکړل شي.